
# د حساب پی لارښود

## حساب پی د برېښنايي اداينو اپلېکېشن



# لړلیک


| | |
|---|---|
| 01 | د انسټالولو (نصبولو) لارښود |
| 02 | د نوم لیکنې لارښود |
| 05 | د پروفایل د سمون (اپډېټ) لارښود |
| 06 | په حساب پی کې د سوداګرۍ د ثبتولو لارښود |
| 07 | په حساب پی کې د سوداګرۍ د ثبتولو لارښود |
| 08 | د حساب پی کاریال د ژبې بدلولو لارښود |
| 09 | په حساب پی کې د مخاطبینو د زیاتولو لارښود |
| 10 | نرخ مبادله |
| 11 | د پېن کوډ د بدلولو لارښود |
| 12 | د پېن کوډ د بیا نوي کولو لارښود |
| 13 | د حساب پی اپلېکېشن امنیتي تنظیمات |
| 14 | اړوندې وسیلې |
| 15 | د حساب پی اکونټ څخه د وتلو لارښود |
| 16 | د حساب پی د ځانګو پتې (زمونږ پتې) |
| 17 | د پیرودونکو چوپړتیاوې |
| 18 | د حساب پی وټسپ ته د پیغام استولو لارښود |
| 19 | د حساب پی د پیرودونکو چوپړتیاوو ته د برېښنالیک د استولو لارښود |
| 20 | د حساب پی مأخذ |
| 21 | د حساب پی له یوې بټوې څخه بلې بټوې ته د پیسو لېږد |
| 22 | له اف پې کارت څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود |
| 23 | له ماستر کارت څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود |
| 24 | د امریکن ایکسپرېس څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود |
| 25 | د ډېسکاور نړیوالې شبکې څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود |
| 26 | له یونین پې څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود |
| 27 | له جی سي بي څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود |
| 28 | د نغدو پیسو له لارې په حساب پی کې د برېښنایي پیسو د زیاتولو لارښود |
| 29 | له یوې بلې حساب پی بټوې څخه په حساب پی بټوه کې د برېښنایي پیسو د زیاتولو لارښود |

د ACH له لارې په حساب پی کې د پیسو ترلاسه کولو لارښود 30

د SEPA له لارې په حساب پی کې د پیسو ترلاسه کولو لارښود 31

د بنکانتکټ (بلجیم) له لارې په حساب پی کې د پیسو ترلاسه کولو لارښود 32

د EPS (اتریش) له لارې په حساب پی کې د پیسو ترلاسه کولو لارښود 33

له اف پې کارت څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود 34

د غضنفر له بانکي حساب څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود 35

له علي پې (Ali pay) څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود 36

له گوگل پې (google pay) څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود 37

له کش اپ پې څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود 38

د ابم پاز په واسطه له کارت څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود 39

د اېچ ډي پلس (+HD) بېل د اداینې لارښود 40

د افغانېټ بېل د اداینې لارښود 41

له حساب پی څخه د مالیاتو د اداینې لارښود 42

د آرین آی سي ټي د بېل اداینې لارښود 43

د موبایل کرېډېټ د زیاتولو لارښود 44

له حساب پی څخه د نغدو پیسو د ایستلو لارښود 45

د حساب پی له یوه گڼوڼ (حساب) څخه بل گڼوڼ (حساب) ته د پیسو د لېږد لارښود 46

د حساب پی له بټوې څخه بانکي حساب ته د پیسو د لېږد لارښود 47

افغانستان ته د پیسو د لېږد لارښود 48

له حساب پی سره د بانکي کارت د وصلولو لارښود 49

د کارت پراوونه 50

د امتیازونو د بدلولو لارښود 51

د وړاندیزونو لېړل 52

د بلنې د استولو لارښود 53

د نوي کاروونکي د ثبتولو لارښود 54

د امتیازونو دړه 55

د کارت معلومات 56

د راکړو ورکړو مخینه 57

صورت حسابونه 58

د کارت محدودیتونه 59

د کارت د بندولو او کنگل کولو لارښود 60

د کیو آر کوډ (QR) د سکن کولو او یا شریکولو لارښود 61

# د حساب پې د کارولو لارښود کتاب

## بټنه :

بټنه یعنې دکمه او په حساب پې اپلیکېشن کې بټنه، کاروونکي ته د یوې چارې د کنټرول اختیار په لاس ورکوي، چې پر هغې (بټنه) باندې په کلېک کولو سره نومورې کس سیسټم ته د یوې چارې د ترسره کولو امر ورانديې کوي.

## کنګل کول (Freeze):

د یو حساب ځینو سرچینو، معلوماتو او یا هم ځینو فعالیتونو ته د کاروونکي د لاسرسۍ د محدودولو پروسې ته ویل کېږي.

## غوراوی (Option):

د حساب پې په اپلیکېشن کې کله چې تاسو له یوې پربکړې، یا هم له کومې پوښتنې سره مخ کېږئ او یا هم کومه پروسه پر مخ بیایئ؛ نو سیسټم تاسو ته د ټاکنې لپاره څو انتخابه درکوي، چې هر یو انتخاب ته غوراوی (Option) ویل کېږي.

## غوراوی (Option):

غوراوی یعنې ټاکنه او په حساب پې اپلیکېشن کې کله چې کاروونکی د یوې معاملې د سرته رسولو او یا هم د یوې پروسې د مخته وړلو پر مهال د دوو او یا له دوو څخه د زیاتو ټاکنو سره مخ کېږي، دې هرې یوې ټاکنې ته غوراوی (Option) ویل کېږي.


## بټوه (Wallet):

هغه بکسه چې تاسو خپلې پیسې پکې خوندي ساتئ او د حساب پې بټوه هغه برېښنایي بټوه ده چې برېښنایي پیسې (E-Money) پکې خوندي ساتل کېږي او له دغې بټوې څخه په ګټه اخیستنې د خپلو مالي راکړو ورکړو اداینه لکه (د برېښنا بېل اداینه، د موبایل د کرېډېټ پېرودل/استول، د پیسو استول او ترلاسه کول، له پلورنځیو څخه د توکو پیرودل) په آسانه توګه ترسره کولای شئ.

## کڅوړه:


د حساب پې په اپلیکېشن کې له کڅوړې نه موخه (Package) ده، چې د یو ټاکل شوي وړاندیز ښکارندویي کوي.

# 1. د انسټالولو (نصبولو) لارښود




1


**د حساب پی اپلیکېشن د انسټالولو لپاره،**
لومړی په خپل انډرایډ یا آیفون موبایلونو کې پلی سټور یا اپ سټور پرانیزئ او د HesabPay کلمه ولټوئ.




2

د انسټالولو لپاره پر Install باندې کلیک وکړئ. تر انسټالولو وروسته به د حساب پی اپلیکېشن ستاسو د موبایل پر مخ ښکاره شي.

# 2. د نوم لیکنې لارښود




1

د حساب پې اپلیکېشن پرانیزئ. د خپلې خوښې د هېواد ژبه او کوډ غوره کړئ، وروسته د موبایل شمېره مو ولیکئ او د پر مخ لاړ شئ تڼۍ کېکاږئ.



2

هغه شپږ رقمیز کوډ مو چې د لیکلي پیغام له لارې ترلاسه کړی دی، دننه کړئ.





3

په دې پاڼه کې د پېژندپاڼې د شا د سکن په اړه لارښوونه شوې ده. د لارښود تر لوستلو وروسته، د پر مخ لاړ شئ پر تڼۍ کلیک وکړئ.



4

په دې پاڼه کې، د خپلې پېژندپاڼې ډول غوره کړئ.




**5**

په دې پړاو کې د خپلې پېژندپاڼې شا سکن کړئ. ځان ډاډمن کړئ چې ټوله پېژندپاڼه د سکن په چوکاټ کې برابره ده، همدارنګه باید د کافي رڼا درلودونکې او پرته له سیورې وي، تر څو پېژندپاڼه په ښه توګه ولوستل شي. وروسته، د **سکن کړئ** تڼۍ ته زور ورکړئ.




**6**

په دې پاڼه کې خپله پېژندپاڼه د خپلې خوښې په اندازه **برابره کړئ**.



**7**

د پېژندپاڼې د شا تر سکن کولو وروسته، ستاسو د پروفایل پاڼه به په اتومات ډول پرانیستل شي. په دې پاڼه کې د خپل پروفایل د بشپړولو لپاره, **لاندې پړاوونه بشپړ کړئ:**

- سېلفي انځور
- د پېژندپاڼې د مخ انځور
- نوم
- کورنی نوم
- برېښنالیک
- د زېږېدونېټه
- جنس
- دنده
- د کور موقعیت
- ملیت



## د سیلفي انځور زیاتول:

8

د سیلفي انځور مو واخلئ پر غوراوي باندې کلیک وکړئ. د سیلفي انځور د اخیستلو اړونده لارښود ولولئ او د پر مخ لاړ شئ پر تڼۍ باندې کلیک وکړئ.




9

په دې پاڼه کې خپل سیلفي انځور واخلئ او د پر مخ لاړ شئ پر تڼۍ باندې کلیک وکړئ.




## د پېژندپاڼې د مخ انځور زیاتول :

10


د پېژندنه مو اضافه کړئ پر غوراوي کلیک وکړئ. د پېژندپاڼې د مخ انځور د اخیستلو اړونده لارښود ولولئ او د پر مخ لاړ شئ پر تڼۍ باندې کلیک وکړئ.




11

په دې پړاو کې، د خپلې پېژندپاڼې د مخ انځور اضافه کړئ، وروسته د پر مخ لاړ شئ پر تڼۍ باندې کلیک وکړئ. تر دې وروسته، په تمه پاتې شئ چې د سیستم له لوري مو حساب (ګڼون) تایید شي.


# 3. د پروفایل د سمون (اپډېټ) لارښود




1

د پروفایل د اپډېټ لپاره د اپلیکېشن د **تنظیمات** برخې ته لاړ شئ او پر خپل پروفایل باندې کلېک وکړئ.


Settings




2

بیا د **تایید شوی** تنۍ باندې کلېک وکړئ. د پروفایل له اپډېټ څخه وروسته، د **پر مخ لاړ شئ** تنۍ کېکاږئ.


# 4. په حساب پی کې د سوداګرۍ د ثبتولو لاربښود




1

د خپلې سوداګرۍ د ثبتولو لپاره

په حساب پی کې د سوداګرۍ د ثبتولو لپاره د اپلیکېشن د تنظیماتو Settings برخې ته لاړ شئ او پروفایل باندې مو کلیک وکړئ.




2


له هغې وروسته د **د سوداګرۍ جواز لرئ؟** پر غوراوي کلیک وکړئ او د **هو** غوراوی وټاکئ.




3


له هغې وروسته د سوداګرۍ نوم، سکتور، د کارکوونکو شمېر، د سوداګرۍ عاید او د سوداګرۍ ځای مو اضافه کړئ.

# 4. په حساب پی کې د سوداګرۍ د ثبتولو لارښود



**4**

له هغې وروسته د **سوداګرۍ جواز** بانډې کلیک وکړئ او د سوداګرۍ له جواز څخه مو واضح او روښانه عکس واخلئ.



**5**

له هغې وروسته د **پلورنځي انځور** پر غوراوي بانډې کلیک وکړئ او د پلورنځي له بهر او دننه څخه یو یو انځور واخلئ.




**6**


په دغه پاڼه کې انځور په مناسبه اندازه برابر کړئ او د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنه بانډې کلیک وکړئ.

## 5. د حساب پی د ژبې بدلولو لاربښود




1

د حساب پی اپلیکېشن د ژبې د بدلولو لپاره، د حساب پی اپلیکېشن د تنظیماتو برخې ته لاړ شئ او د **ژبه وټاکئ** پر غوراوي باندې کلیک وکړئ.




2


په دغه پاڼه کې به د خپلې خوښې وړ ژبه غوره کړئ.

# 6. په حساب پی کې د مخاطبینو د زیاتولو لاربښود

1

په حساب پی کې د مخاطبینو د زیاتولو لپاره د حساب پی اپلیکېشن د تنظیماتو برخې ته لاړ شئ او **زما اړیکلورې** غوراوي باندې کلیک وکړئ.




2

له هغې وروسته د **اړیکلوري زیاتول** پر غوراوي باندې کلیک وکړئ.

3

په دې پاڼه کې تاسو کولای شئ د ټیلیفون پر برخه کې د **اړیکلوري شمېره** او د **نوم** په برخه کې د اړیکلوري نوم دننه کړئ او یا هم **د ټیلیفون له اړیکشمېرو څخه یې غوره کړئ** باندې کلیک وکړئ تر څو تاسو د موبایل له اړیکلورو څخه د اړیکي شمېره غوره کړئ او له هغې وروسته د **خوندي کړئ** پر غوراوي باندې کلیک وکړئ.




دلته هغه کس مخاطب دی، چې تاسو غواړئ د حساب پی له لارې له هغه سره راکړه ورکړه ولرئ.

## 7. د تبادلي نرخ




1

د اسعارو د بیې د پوهېدو لپاره، د اپ د تنظیماتو برخې ته لاړ شئ او د تبادلي نرخ پر غوراوي باندي کلیک وکړئ.




2

په دې پاڼه کې تاسو کولای شئ د خارجي اسعارو نرخونه د افغانیو پر وړاندې وګورئ او د اسعارو د تبادلې لپاره پر اړونده اسعارو باندې کلیک وکړئ.





3

**د اسعارو د تبادلي مبلغ د پوهېدو لپاره،**


د ډالر د پیسو کڅه دننه کړئ. د افغانیو کڅه برخه کې، د افغانیو مبلغ تاسو ته په اوتومات ډول ښودل کېږي.

# 8.د پین کوډ د بدلولو لارښود




**1**

د پین کوډ د بدلولو لپاره د اپلیکېشن د تنظیماتو برخې ته ورشئ او د **پین کوډ بدلول** پر غوراوي کلیک وکړئ.




**2**

په دې برخه کې، لومړی خپل پخوانی پین کوډ د **زوړ پین کوډ** په برخه کې ولیکئ، وروسته خپل نوی پین کوډ غوره او د **نوي پین کوډ** په برخه کې یې ولیکئ. بیا همدا نوی پین کوډ مو د تایید په موخه د **پین تاییدول** په برخه کې ولیکئ او د **پر مخ لاړ شئ** پر غوراوي کلیک وکړئ چې پین کوډ مو بدل شي.

# ۹. د پېن کوډ د بيا نوي کولو لاربښود





1

د پېن کوډ د بيا نوي کولو لپاره د اپلېکېشن د تنظيماتو برخې ته ورشئ او **د پېن کوډ بدلول** پر غوراوي کلېک وکړئ.




2

د **پېن کوډ مو بيا نوی کړئ** پر غوراوي کلېک وکړئ.




3


په دې برخه کې، خپل يو سيلفي انځور او د خپلې پېژندپاڼې د مخ او شا انځور زيات کړئ، او د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنه کلېک وکړئ.



4

د سيلفي انځور او پېژندپاڼې له زياتولو څخه وروسته، ستاسو غوښتنليک په سيستم کې ثبتېږي او د پروفايل له معلوماتو سره د سمون په صورت کې به تاسو ته نوی پېن کوډ د ليکلي پيغام له لارې واستول شي.

# د حساب پې اپلیکېشن امنیتي تنظیمات




1

د خپل حساب پې اکونټ د خوندیتوب د زیاتولو لپاره، د حساب پې اپلیکېشن د تنظیماتو برخې ته لاړ شئ او د ګرځنده موبایل کولپ او یا هم د ګوګل تاییدي فعاله کړئ.




2

د ګوګل تاییدی د فعالولو لپاره د ګوګل تاییدي باندې کلیک وکړئ.




3

په دغه برخه کې، تاسو کولای شئ د ګوګل تاییدوونکي اپلیکېشن په کارولو سره کیو آر کوډ سکن کړئ او یا هم کوډ کاپي کړئ او د ګوګل تاییدوونکي اپلیکېشن کې یې دننه کړئ. بیا د پرمخ لاړ شئ پر بټنه باندې کلیک وکړئ.



4


وروسته له دې چې د حساب پې اپلیکېشن مو په ګوګل تاییدوونکي اپلیکېشن کې زیات شو؛ نو شپږ رقمیز کوډ دننه کړئ او د پرمخ لاړ شئ بټنه باندې کلیک وکړئ.

# 11. اړوندې وسیلې




1


د دې لپاره چې وګورئ ستاسو اکونټ په کومو وسیلو (موبایل،کمپیوټر) کې خلاص دی، د **نښلول شوي وسایل** غوراوي باندې کلیک وکړئ.




2


په دې پاڼه کې به د هغو وسیلو(موبایل یا کمپیوټر) لیست تاسو ته ښکاره شي، کومو کې چې ستاسو د حساب پی اکونټ خلاص دی. د **وتل** غوراوي په کلیک کولو سره کولای شئ له اړوندې وسیلې څخه ووځئ.

# ‎12. له حساب پی اکونټ څخه د وتلو لاربنود




1


له حساب پی اکونټ څخه د وتلو لپاره د وتل پر غوراوي باندي کلیک وکړئ.




2


د پیغام له لوستلو څخه وروسته د وتلو لپاره د وتل پر غوراوي کلیک وکړئ او د لغوه کولو لپاره د لغوه کړئ غوراوی وټاکئ.

# 13. د حساب پې د ځانګو پټې (زمونږ پټې)




1

د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې د حساب پې ځانګو د پتو پوهېدلو لپاره، د اپلیکېشن د تنظیماتو برخې ته لاړ شئ او زمونږ پټې غوراوی انتخاب کړئ.



2

په دې پاڼه کې، د حساب پې ټولې ځانګې د نقشې پر مخ راښکاره کېږي. په یوه ځانګړي ولایت کې زمونږ د ځانګې د پټې د پوهېدو لپاره د نقشې پر مخ د نوموړي ولایت پر نښان (Icon) باندې کلیک وکړئ.




3


او یا هم کولای شئ د پلټنې په برخه کې د اړونده ولایت نوم ولیکئ.



4


په دې پاڼه کې د اړوندې ځانګې بشپړ معلومات لکه: د ولایت نوم، د ځانګې کره پته او د استازي د اړیکې شمېره را ښکاره کېږي.

# 14. د پېرودونکو چوپړتیاوې




1

د حساب پې د پېرودونکو چوپړتیاوو سره د اړیکې نیولو لپاره د اپلیکېشن د تنظیماتو برخې ته لاړ شئ او **له مونږ سره اړیکه ونیسئ** غوراوې باندې کلیک وکړئ.




2

په دې برخه کې پر **phone** باندې کلیک وکړئ.





3

له دې وروسته ستاسو د موبایل د حساب پې د پېرودونکو چوپړتیا رابنکاره کېږي. د اړیکې نیولو لپاره د اړیکې پر شنې بټنې باندې کلیک وکړئ.

## 15. د حساب پی وټس اپ ته د پیغام استولو لارښود

**1**





د حساب پی وټس اپ ته د پیغام استولو لپاره، د اپلیکیشن د تنظیماتو برخې ته لاړ شئ او **زموږ وټس اپ** پر غوراوي باندي کلیک وکړئ.

**2**





په اوتومات ډول د وټس اپ پاڼه تاسو ته راخلاصیږي.

## 16. د حساب پی د پیرودونکو چوپړتیاوو ته د بریښنالیک د استولو لاربښود





1

د حساب پی د پیرودونکو چوپړتیاوو ته د بریښنالیک د استولو لپاره، د اپلیکېشن د تنظیماتو برخې ته لاړ شئ او د **بریښنالیک** **راولېږئ** پر غوراوي باندې کلیک وکړئ.




2

په اوتومات ډول د بریښنالیک پاڼه تاسو ته راخلاصېږي.




1


د حساب پی مسینجر ته د پیغام استولو لپاره، د اپلیکېشن د تنظیماتو برخې ته لاړ شئ او **زمونږ مسینجر** پر غوراوي باندې کلیک وکړئ.

# 17. د حساب پې مأخذ


**لاربښود:**

د HesabPay له آسانتیاوو څخه د غوره ګټه اخیستلو لپاره، مونږ یو هر اړخیز لاربښود ستاسو لپاره چمتو کړی دی. په دې لاربښود کې د کاروونکي لپاره د حساب جوړول، د پیسو لېږل او د اداینو نورې آسانتیاوې د ښوونیزو ویډیوګانو په بڼه تاسو ته چمتو شوي دي. د نوموړو ویډیوګانو د کتلو لپاره مهرباني وکړئ د لاربښود پر غوراوي باندې کلیک وکړئ.

1




2




**د ګڼون (حساب) ړنګول:**

د ګڼون (حساب) د ړنګولو لپاره د ګڼون ړنګول پر غوراوي باندې کلیک وکړئ.

**د محرمیت تګلاره**

د کاروونکي شخصي حریم زمونږ لپاره لومړیتوب لري. زمونږ د محرمیت پالیسي یو لړ هغه ګامونه په بر کې نیسي، چې ستاسو د شخصي معلوماتو د خوندي کولو په اساس ترلاسه شوي دي.

**ډېرې پوښتل شوې پوښتنې**


په دې برخه کې تاسو کولای شئ د هغو پوښتنو ځوابونه ترلاسه کړئ، کوم چې د حساب پې د کاروونکو له خوا ډېرې پوښتل شوې دي.

**شرطونه او مقررات**

د خوندیتوب او د کاروونکو د غوره تجربې په اساس، مهرباني وکړئ د حساب پې څخه د ګټه اخیستنې اړونده شرطونه او مقررات مطالعه کړئ. په دې برخه کې د کاروونکو د مسؤلیتونو او د خصوصي حریم د ساتنې په هکله پوره ځرګندونې شوې دي.


## 18. د حساب پی له یوې بټوې څخه د حساب پی بلې بټوې ته د پیسو لېږد

1




د حساب پی له یوې بټوې څخه د حساب پی بلې بټوې ته د پیسو د استولو لپاره، لومړی د ترلاسه کولو برخې ته لاړ شئ او بیا زما د کارتونو ترمنځ غوراوي باندې کلیک وکړئ. د حساب پی له یوې بټوې څخه د حساب پی بلې بټوې ته د پیسو لېږد

2





په دې پاڼه کې به لومړی هغه بټوه وټاکئ چې له هغې نه غواړئ پیسې واستوئ. په دویم ګام کې به د پیسو مبلغ دننه کړئ. د ته په برخه کې به هغه بټوه وټاکئ چې غواړئ هغې بټوې ته پیسې واستوئ، وروسته له هغې د پر مخ لاړ شئ پر بټنې باندې کلیک وکړئ.

# 19. له اف پې کارت څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود




**1**

له اف پې کارت څخه د پیسو د ترلاسه کولو لپاره د ترلاسه کول برخې ته لاړې شئ او **له بل کارت څخه** پر غوراوي بانديې کلیک وکړئ.




**2**


د **Afpay Card** غوراوي وټاکئ.

**3**

په دې پاڼه کې به لومړی هغه بټوه وټاکئ چې له هغې نه غواړئ پیسې واستوئ. په دويم ګام کې به د پیسو مبلغ دننه کړئ. د **ته** په برخه کې به هغه بټوه وټاکئ چې غواړئ هغې بټوې ته پیسې واستوئ، وروسته له هغې د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنې بانديې کلیک وکړئ.



## 20. له ماسټر کارت څخه په حساب پې کې د پیسو زیاتولو لاربښود





1

د ماسټر کارت له لارې په حساب کې د پیسو زیاتولو لپاره د ترلاسه کول په پاڼه کې **له بل کارت څخه** غوراوی وټاکئ.




2

د **ماستر کارت** غوراوی غوره کړئ.




3


په دې پاڼه کې به لومړی هغه بټوه وټاکئ چې له هغې نه غواړئ پیسې واستوئ. په دویم ګام کې به د پیسو مبلغ دننه کړئ. د **ته** په برخه کې به هغه بټوه وټاکئ چې غواړئ هغې بټوې ته پیسې واستوئ، وروسته له هغې د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنې باندې کلیک وکړئ.

## ۲۱. د امریکن اېکسپرېس څخه په حساب پې کې د پیسو زیاتولو لاربښود




1

امریکن اېکسپرېس له لارې د حساب پې په بټوه کې د پیسو د ترلاسه کولو لپاره د ترلاسه کول په پاڼه کې **له بل کارت څخه** پر غوراوي کلېک وکړئ.




2


د **امریکن اېکسپرېس** غوراوی غوره کړئ.




3

په دې پاڼه کې به لومړی هغه بټوه وټاکئ چې له هغې نه غواړئ پیسې واستوئ. په دویم ګام کې به د پیسو مبلغ دننه کړئ. د **ته** په برخه کې به هغه بټوه وټاکئ چې غواړئ هغې بټوې ته پیسې واستوئ، وروسته له هغې د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنې باندې کلېک وکړئ.

## 22. د ډیسکاور نړیواله شبکې څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود




**1**

د ډیسکاور نړیوالې شبکې له لارې د حساب پی په بټوه کې د پیسو د ترلاسه کولو لپاره د ترلاسه کول په پاڼه کې **له بل کارت څخه** پر غوراوي کلیک وکړئ.




**2**


د **ډیسکاور نړیواله شبکه** غوراوی غوره کړئ.




**3**


په دې پاڼه کې به لومړی هغه بټوه وټاکئ چې له هغې نه غواړئ پیسې واستوئ. په دویم گام کې به د پیسو مبلغ دننه کړئ. د **ته** په برخه کې به هغه بټوه وټاکئ چې غواړئ هغې بټوې ته پیسې واستوئ، وروسته له هغې د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنې باندې کلیک وکړئ.

## 23. له یونین پې څخه په حساب پې کې د پیسو زیاتولو لاربښود




**1**

له یونین پې څخه د پیسو د ترلاسه کولو لپاره د ترلاسه کول په پاڼه کې **بل کارت څخه** پر غوراوي کلیک وکړئ.




**2**

د **یونین پې** غوراوی غوره کړئ.




**3**


په دې پاڼه کې به لومړی هغه بټوه وټاکئ چې له هغې نه غواړئ پیسې واستوئ. په دویم ګام کې به د پیسو مبلغ دننه کړئ. د **ته** په برخه کې به هغه بټوه وټاکئ چې غواړئ هغې بټوې ته پیسې واستوئ، وروسته له هغې د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنې باندې کلیک وکړئ.

## 24. له جی سي بي ځخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود




1

له جی سي بي ځخه د پیسو د ترلاسه کولو لپاره د ترلاسه کول په پاڼه کې **له بل کارت ځخه** پر غوراوي کلیک وکړئ.




2


د **جی سي بي(JCB) تولیدي شرکت** غوراوی غوره کړئ.



3

په دې پاڼه کې به لومړی هغه بټوه وټاکئ چې له هغې نه غواړئ پیسې واستوئ. په دویم ګام کې به د پیسو مبلغ دننه کړئ. د **ته** په برخه کې به هغه بټوه وټاکئ چې غواړئ هغې بټوې ته پیسې واستوئ، وروسته له هغې د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنې باندې کلیک وکړئ.

## 25. له نغدو پیسو څخه په حساب پې کې د برېښنايي پیسو د زياتولو لارښود




1

د حساب پې په بټوه کې د برېښنايي پیسو د زياتولو لپاره په لومړي گام کې د حساب پې تر ټولو نږدې څانگې ته ورشئ او خپلې نغدې پیسې د حساب پې استازي ته وسپارئ.




2

وروسته له هغې په دې پاڼه کې به **د پیسو کچه** کې د پیسو مبلغ او د **ته** په برخه کې **کيو آر کوډ سکن کړئ** بانديې کلیک وکړئ او **پر مخ لاړ شئ** ته ټک وکړئ.

## 26. د حساب پی له بلې بټوې څخه په حساب پی کې د برېښنايي پیسو زیاتولو لاربښود




1

د حساب پی له یوې بټوې څخه د حساب پی په بله بټوه کې د برېښنايي پیسو د زیاتولو لپاره د **ترلاسه کول** په برخه کې د **حساب پی له ګڼون (حساب) څخه** پر غوراوي باندې کلېک وکړئ.



2

په دې پاڼه کې، د حساب پی بټوې کیو آر کوډ(QR) تاسو ته ښودل کېږي. د بل کس له حساب پی بټوې څخه د پیسو د ترلاسه کولو لپاره، مقابل لوری دې ستاسو کیو آر کوډ سکن کړي. د کیو آر کوډ (QR) د خوندي کولو لپاره د **خوندي کړئ** پر غوراوي کلېک وکړئ او یا هم له نورو لارو څخه د شریکولو په موخه د **شریکول** پر غوراوي کلېک وکړئ.

خوندي کړئ | شریکول

# ACH .27 د ACH له لارې په حساب پې کې د پیسو ترلاسه کولو لارښود





1

د ACH له لارې د پیسو ترلاسه کولو لپاره د ترلاسه کول په پاڼه کې **له بانکي ګڼون (حساب) څخه** پر غوراوي کلیک وکړئ.




2

لومړی **د ACH له لارې مستقیم ډیپېټ** غوره کړئ.




3

په دې برخه کې، لومړی د پیسو هغه مبلغ چې تاسو يې غواړئ ترلاسه کړئ، ولیکئ. ورپسې د ګڼون (حساب) شمېره، د مسیر موندنې شمېره، او خپل بریښنالیک ولیکئ او د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنې باندې کلیک وکړئ.

## 28. طریقه دریافت پول از راه SEPA




1

د SEPA له لارې د پیسو ترلاسه کولو لپاره د ترلاسه کول په پاڼه کې **له بانکي ګڼون (حساب) څخه** پر غوراوي کلیک وکړئ.




2

لومړی **د ACH له لارې مستقیم ډیپیټ** غوره کړئ.




3


په دې برخه کې، د پیسو کچه، د ګڼون (حساب) شمېره او خپل بریښنالیک ولیکئ او د **پر مخ لاړ شئ** پر غوراوي کلیک وکړئ.

# 29. د بنکانتکټ (بلجیم) له لارې په حساب پی کې د پیسو ترلاسه کولو لاربښود




1

د بنکانتکټ (بلجیم) له لارې د پیسو د ترلاسه کولو لپاره د ترلاسه کول په پاڼه کې **له بانکي ګڼون (حساب) څخه** پر غوراوي کلیک وکړئ.




2

د **بنکانتکټ بلجیم** غوراوی غوره کړئ.




3

په دې برخه کې د پیسو کچه او خپل بریښنالیک ولیکئ او د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنې باندې کلیک وکړئ.

## 30. د EPS (اتریش) له لارې په حساب پی کې د پیسو ترلاسه کولو لارښود




**1**

د EPS (اتریش) له لارې د پیسو د ترلاسه کولو لپاره د ترلاسه کول په پاڼه کې **له بانکي ګڼون (حساب) څخه** پر غوراوي کلیک وکړئ.




**2**


د **EPS (اتریش)** غوراوی غوره کړئ.




**3**

په دې برخه کې د پیسو کچه او خپل بریښنالیک ولیکئ او د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنې باندې کلیک وکړئ.

## 31. له اف پې کارت څخه په حساب پې کې د پیسو زیاتولو لاربښود





1

د اف پې کارت له لارې د پیسو د ترلاسه کولو لپاره د ترلاسه کول په پاڼه کې **له بل کارت څخه** پر غوراوي کلیک وکړئ.




2

د **Afpay Card** غوراوی غوره کړئ.




3


په دې پاڼه کې به لومړی هغه بټوه وټاکئ چې له هغې نه غواړئ پیسې واستوئ. په دویم ګام کې به د پیسو مبلغ دننه کړئ. د **ته** په برخه کې به هغه بټوه وټاکئ چې غواړئ هغې بټوې ته پیسې واستوئ، وروسته له هغې د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنې باندې کلیک وکړئ.

## 32. د غضنفر له بانکي حساب څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود





**1**

د غضنفر له بانکي حساب څخه د پیسو د ترلاسه کولو لپاره د ترلاسه کول په پاڼه کې **له بانکي ګڼون (حساب) څخه** پر غوراوي کلیک وکړئ.




**2**


په دې پاڼه کې د **غضنفر بانک** غوراوی غوره کړئ.




**3**


په دې برخه کې د کارت شمېره، د پیسو مبلغ، د بانکي ګڼون (حساب) پین کوډ او د اړتیا پر مهال یادښت ولیکئ او د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنې باندې کلیک وکړئ.

## 33. له علي پې (Ali pay) څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لاربښود




1

له علي پې څخه د حساب پی په بټوه کې
د پیسو د زیاتولو لپاره د ترلاسه کول په
پاڼه کې **له بټوې** غوراوی وټاکئ.




2

په دې پاڼه کې د **علي پې (Ali PAY)** غوراوی وټاکئ.




3

په دې برخه کې د پیسو کچه او خپل برېښنالیک
ولیکئ او د **ته** په برخه کې هغه بټوه انتخاب
کړئ؛ کومه کې چې غواړئ پیسې زیاتې کړئ،
وروسته له هغې د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنې
باندې کلیک وکړئ.

## 34. له ګوګل پې (Google Pay) څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لارښود




**1**

له ګوګل پې څخه د حساب پی په بټوه کې د پیسو د زیاتولو لپاره د ترلاسه کول په پاڼه کې **له بټوې** غوراوی وټاکئ.




**2**

په دې پاڼه کې د **ګوګل پې** غوراوی وټاکئ.




**3**

په دې برخه کې د پیسو کچه او خپل بریښنالیک ولیکئ او د **ته** په برخه کې هغه بټوه انتخاب کړئ؛ کومه کې چې غواړئ پیسې زیاتې کړئ، وروسته له هغې د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنې باندې کلیک وکړئ.

## 35. له کش اپ پې څخه په حساب پی کې د پیسو زیاتولو لاربښود




1

له کش اپ پې څخه د حساب پی په بټوه کې د پیسو د زیاتولو لپاره د ترلاسه کول په پاڼه کې **له بټوي** غوراوی وټاکئ.




2

په دې پاڼه کې د **کش اپ پي** غوراوی وټاکئ.




3

په دې برخه کې د پیسو کچه او خپل بریښنالیک ولیکئ او د **ته** په برخه کې هغه بټوه انتخاب کړئ؛ کومه کې چې غواړئ پیسې زیاتې کړئ، وروسته له هغې د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنې باندې کلیک وکړئ.

## 36. له کارت څخه د ام پازله لارې په حساب پی کې د پیسو د زیاتولو لاربنود





1

له کارت څخه د ام پاز له لارې د حساب پی په بټوه کې د پیسو د زیاتولو لپاره د ترلاسه کول په پاڼه کې **له Swipe کارت څخه** غوراوی وټاکئ.




2

په دې پاڼه کې، د **ته** په برخه کې به هغه بټوه انتخاب کړئ؛ کومه کې چې غواړئ پیسې زیاتې کړئ او **د پیسو کچه** کې د پیسو مبلغ ولیکئ، وروسته له هغې د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنه باندې کلیک وکړئ.



3

بیا د ام پاز وسیله له خپل ګرځنده موبایل سره وصل کړئ.



2


کله چې پر سکرین د رانبکاره شوې صفحې پورتنۍ برخه شنه شوه، خپل اف پې کارت کش (Swipe) کړئ. د اسعارو له ټاکلو وروسته، د ادائینې لپاره د خپل کارت پین ولیکئ.

# ۳۷. د اېچ ډي پلس (HD+) بېل د اداينې لارښود




**1**

د اېچ ډي پلس (HD+) بېل د اداينې لپاره د **لېږل** برخې ته لاړ شئ او **د بېلونو د اداينې لپاره** غوراوی انتخاب کړئ.




**2**

په دې برخه کې، د شته بېلونو له منځه **اچ ډي پلس** وټاکئ.




**3**

په دې برخه کې، لومړی د خپل اېچ ډي پلس (HD+) حساب شمېره ولیکئ، وروسته له هغې به تاسو ته د اېچ ډي پلس (HD+) موجوده کڅوړې را ښکاره شي. تاسو کولای شئ د خپلې خوښې وړ کڅوره وټاکئ. د کڅوړې له ټاکلو وروسته، د اداينې لپاره د **پر مخ لاړ شئ** غوراوي باندې کلیک وکړئ.

# 38. د افغانېټ بېل د ادايني لاربښود




1

د افغانېټ بېل د ادايني لپاره د لېږل برخې ته لاړ شئ وروسپي د بېلونو د ادايني لپاره غوراوی انتخاب کړئ.




2


په دې برخه کې، د انټرنېټ غوراوی وټاکئ او وروسته له هغې د افغانېټ پر غوراوي کلیک وکړئ.




3

د ګنون (حساب) شمېره کې د افغانېټ د حساب شمېره ولیکئ، وروسته له هغې به تاسو ته د افغانېټ موجوده انټرنېټي کڅوړې را ښکاره شي. د خپلې خوښې ور کڅوړې له ټاکلو څخه به وروسته، د ادايني لپاره د پر مخ لاړ شئ پر بټنې باندې کلیک وکړئ.

# 39. د حساب پی له لارې د مالیاتو د ادیني لاربښود




1

د مالیاتو د ادایني لپاره د لیږل برخي ته لاړ شئ وروسته د بېلونو د ادایني لپاره غوراوی انتخاب کړئ.




2

په دې برخه کې د مالیات پر غوراوي باندي کلیک وکړئ.




3


د له په برخه کې به د ادایني لپاره خپل یو حساب/بانکي کارت وټاکئ، بیا به د بېل ډول او د بېل شمېره دننه کړئ، وروسته له هغې د پر مخ لاړ شئ غوراوي باندي کلیک وکړئ.

# 40. د آرین آی سي تي (AryanIct.com) بېل د اداینې لاربښود




1

د آرین آی سي تي (AryanIct.com)د اداینې لپاره د لېږل برخې ته لاړ شئ وروسته بېلونو د اداینې لپاره غوراوی انتخاب کړئ.




2


په دې برخه کې، د انټرنېټ غوراوی وټاکئ




3

په دې برخه کې د پلورلیک (رسید) شمېره، د پېرودونکي نوم او د پیسو کچه دننه کړئ او د اداینې لپاره د پر مخ لاړ شئ پر بټنې باندې کلیک وکړئ.

# 41. د موبایل کرېډېټ د پېرودلو لارښود




1

د موبایل کرېډېټ د پېرودلو لپاره د **لېږل** پر غوراوي کلیک وکړئ. وروسته **د کرېډېټ پېرودلو** لپاره غوراوی وټاکئ.



2

په دې برخه کې، د اړتیا وړ د **پیسو کچه** او د خپلې خوښې **هغه** اړیکشمېره چې تاسو غواړئ د موبایل کرېډېټ ورته واستوئ، ولیکئ او یا د خپلو اړیکلورو له لیست څخه د اړیکشمېرې د غوره کولو لپاره **یا له خپلو اړیکلورو یې غوره کړئ** پر غوراوي کلیک وکړئ.





3

په دې برخه کې، د داږ لپاره د **تایید کړئ** پر غوراوي کلیک وکړئ؛ تر څو معامله مو ترسره شي.

## 42. له حساب پی څخه د نغدو پیسو د ایستلو لاربښود

1




له حساب پی څخه د نغدو پیسو د ایستلو لپاره **د نغدو پیسو د ویستلو لپاره** پر غوراوي کلیک وکړئ.

2




د پیسو کچه په برخه کې به د پیسو هغه مبلغ ولیکئ کوم چې تاسو یې غواړئ ترلاسه کړئ. وروسته کیو آر کوډ (QR) سکن کړئ او د **پر مخ لاړ شئ** پر تڼۍ کلیک وکړئ.


## 43. د حساب پی له یوه ګڼوڼ (حساب) څخه بل ګڼوڼ (حساب) ته د پیسو د لېږد لارښود

1




د حساب پی له یوه ګڼوڼ (حساب) څخه بل ګڼوڼ (حساب) ته د پیسو د لېږد لپاره د لېږل پر غوراوي کلېک وکړئ. وروسې د حساب پی یوه ګڼوڼ (حساب) ته غوراوی وټاکئ.

2




په دې برخه کې، د پیسو کچه او د ترلاسه کوونکي کس د حساب پی شمېره ولیکئ.

# 44. د حساب پې له بټوې څخه بانکي حساب ته د پيسو د لېږد لارښود




1

د حساب پې له بټوې څخه بانکي حساب ته د پيسو د لېږلو لپاره د لېږل پر غوراوي کلېک وکړئ. وروپسې د بانکي ګڼون (حساب) ته غوراوی وټاکئ.



2

په دې پاڼه کې، له شته لېست څخه خپل بانکي حساب وټاکئ.





3

دلته د څخه برخه کې خپل بانکي کارت وټاکئ بيا د پيسو مبلغ، بانک، د کارت شمېره او د اړتيا په صورت کې يادښت اضافه کړئ. وروسته له هغې د پر مخ لاړ شئ پر غوراوي باندې کلېک وکړئ.

# 45. افغانستان ته د پیسو د لېږد لارښود

1





په افغانستان کې خپلو ملګرو او خپلوانو ته له بهر څخه د پیسو د لېږد لپاره، د لېږل برخې ته لاړ شئ او افغانستان ته غوراوي باندې کلیک وکړئ.

2





په دې پاڼه کې، د له په برخه کې د پیسو د لېږلو لاره وټاکئ. وروسته له هغې خپل برېښنالیک ولیکئ. په پای کې د ترلاسه کوونکي کس شمېره دننه کړئ او د پر مخ لاړ شئ پر بټنې باندې کلیک وکړئ.

# 46. له حساب پی سره د بانکي کارت د وصلولو لاربښود




1

د حساب پی اپلیکېشن سره د بانکي کارت د وصلولو لپاره، د کارت برخې ته لاړ شئ او د **کارت اضافه کړئ** پر غوراوي باندې کلیک وکړئ.




2

په دې پاڼه کې، د خپل کارت معلومات لکه: د کارت ډول، د کارت پر مخ نوم، د کارت شمېره، د کارت تایید کوډ، د پای نېټه او د اسعارو ډول دننه کړئ او وروسته له هغې د **پر مخ لاړ شئ** پر بټنې باندې کلیک وکړئ.

# ۴۷. د کارت پړاوونه




1


د خپل کارت د درجې د لیدلو لپاره، د کارت برخې ته مراجعه وکړئ. په دې برخه کې، ستاسو د کارت اوسنی پړاو ښودل کېږي. د ټولو پړاوونو د کتلو لپاره په نوموړي غوراوي باندې کلیک وکړئ.




2

په دې پاڼه کې د کارت پړاوونه تاسو ته درښودل کېږي. هرڅومره چې ستاسو امتیازونه لوړ وي، ستاسو د کارت درجه هم ورسره لوړېږي.

# 48. د امتیازونو د بدلولو لاربښود




1


د خپلو امتیازونو د بدلولو لپاره، د کارت برخې ته لاړ شئ او د **ترلاسه شوو امتیازونو اړول** غوراوي باندې کلیک وکړئ.




2

په دې پاڼه کې، د هغو امتیازونو مبلغ دننه کړئ چې تاسو یې بدلول غواړئ، بیا د **تایید کړئ** غوراوي باندې کلیک وکړئ.

# 49. د وړاندیزونو لېږل




1


د شته وړاندیزونو د لیدلو لپاره، د **وړاندیز** پر غوراوي باندې کلېک وکړئ.




2


په دې پاڼه کې، د شته وړاندیزونو لیست له امتیازونو سره یې یوځای تاسو ته ښودل کېږي.

# 50. د بلنې لیږلو لارښود




1

حساب پی اپلیکېشن ته د خپلو ملګرو د بلنې لپاره د بلنه ولېږئ غوراوي باندې کلیک وکړئ او امتیاز ترلاسه کړئ




2

په دې پاڼه کې، تاسو کولای شئ د حساب پی اپلیکېشن لینک له خپلو ملګرو سره د وټس اپ، پیغام، برېښنالیک او مسېنجر له لارې شریک کړئ. لومړی به په هر یوه غوراوي باندې کلیک وکړئ، وروسته له هغې به یوه نوې پاڼه تاسو ته راښکاره شي، هلته د لیږل پر غوراوي باندې کلیک وکړئ. ستاسو ملګري په اړونده لینک باندې په کلیک کولو سره کولای شي چې، د حساب پی اپلیکېشن ډاونلوډ او ځانته د حساب پی اکونټ پخپله جوړ کړي.

# 51. د نوي کاروونکي د ثبتولو لاربښود




1

د کاروونکي د ثبتولو او د امتیاز د گټلو لپاره، د کارت برخې ته لاړ شئ او د کاروونکي ثبتول پر غوارولي بانډي کلیک وکړئ.




2

په دې برخه کې، د کاروونکي اړیکشمېره ولیکئ او د پر مخ لاړ شئ پر بټنې بانډي کلیک وکړئ.




3

د پیغام له لارې اړوندي اړیکشمېرې ته یو شپږ رقمیز کوډ استول کېږي. نوموړی کوډ دننه کړئ او د پر مخ لاړ شئ پر بټنې بانډي کلیک وکړئ.



4


په دې پاڼه کې، د کاروونکي اړین معلومات لکه: د نوموړي کس سیلفي انځور، د پېژندپاڼې د مخ او شا انځور، او داسې نور په خپلو ځایونو کې ور زیات کړئ.

# 52. د امتیازونو درجه




1

د خپلو امتیازونو د کتلو لپاره،
د **امتیازونو دره** غوراوي بانديې
کلیک وکړئ.




2

په دې پاڼه کې، تاسو خپل ټول ګټلي امتیازونه
چې د بیلابیلو راکړو ورکړو له ترسره کولو څخه مو
ترلاسه کړي دي، کتلای شئ او همدارنګه د نورو
خلکو امتیازونه هم کتلای شئ.
د امتیازونو په دره کې ستاسو نوم مستعار دی،
که چیرې غواړئ خپل مستعار نوم بدل کړئ، په
سمون بانديې کلیک وکړئ او خپل نوم بدل کړئ.

# 53. د کارت معلومات




1

د خپل کارت د معلوماتو د کتلو لپاره، د کارت برخې ته لاړ شئ، لومړی پر خپل کارت باندې کلیک وکړئ او وروسته له هغې د **کارت معلومات** غوراوی وټاکئ.




2


په دې پاڼه کې به د کارت ټول معلومات تاسو ته رابښکاره شي.

# 54. د راکړو ورکړو مخینه



1

د خپلو راکړو ورکړو د مخینې د کتلو لپاره، د کارت برخې ته لاړ شئ. لومړی پر خپل کارت باندې کلیک وکړئ او وروسته له هغې د مخینې پر غوراوي کلیک وکړئ.



2

په دې پاڼه کې د خپلو ټولو راکړو ورکړو مخینه چې د حساب پی له لارې مو ترسره کړې دي، کتلای شئ.

# 55. صورت حسابونه

1




د خپلې حساب پی بټوې د صورت حساب د جوړولو لپاره، د کارت برخې ته لاړ شئ او وروسته له هغې د صورت حسابونه غوراوی وټاکئ.

2




د هرې نېټې صورت حساب چې وغواړئ ترلاسه کولای يې شئ. لومړی به د اړوندې نېټې د پيل او پای نېټه وټاکئ او وروسته له هغې د پر مخ لاړ شئ پر غوراوي باندې کلېک وکړئ. د پاڼې په ښکته برخه کې به جوړ شوی صورت حساب تاسو ته را ښکاره شي. د نوموړي صورت حساب د کتلو لپاره مهرباني وکړئ کلېک پرې وکړئ.

# 56. د کارت محدودیتونه




1

د خپلو راکړو ورکړو د محدودیتونو د کتلو لپاره، د کارت برخې ته لاړ شئ. لومړی په اړونده کارت باندې کلیک وکړئ او بیا **د کارت محدودیتونه** غوراوی وټاکئ.



2

دا پاڼه د ورځنیو معاملو د محدودیتونو د کتلو لپاره ده. پیرودونکی نه شي کولای له ټاکل شوي کچې څخه ډېرې معاملې په یوه ورځ کې ترسره کړي.

# 57. د کارت د بندولو او کنګل کولو لارښود



1

د کارت د کنګل کولو لپاره، د کارت برخې ته لاړ شئ، لومړی په خپل کارت باندې کلیک وکړئ او وروسته له هغې **د کارت کنګل کول** غوراوی وټاکئ.




1

د خپل کارت د بندولو لپاره، د کارت بندول پر غوراوي باندې کلیک وکړئ او وروسته له هغې د **غوښتنې** غوراوی وټاکئ.

# 58. د کیو آر کوډ د سکن کولو او یا شریکولو لاربښود




1

د حساب پې د کیو آر (QR) کوډ د ښودلو او یا هم د نورو د کیو آر (QR) کوډونو د سکن کولو لپاره، د ښکته پاڼې په منځ کې د **سکن کړئ** پر بټنې باندې کلیک وکړئ.



2

د کیو آر کوډ د ښودلو او خوندي کولو لپاره، د **کیو آر کوډ ښکاره کړئ** ښې اړخ خوا ته را کش کړئ او د بل کس د کیو آر (QR) کوډ د سکن کولو لپاره، د **کیو آر کوډ سکن کړئ** بټنه کیڼ اړخ ته را کش کړئ.

# په هر ځای کې، هر وخت،
# هر چا ته ادأینه وکړئ

